# د پښتو په مزاحمتي ادب کښې د هشتنغر کردار

**The Role of Hashtnaghar in Promotion of Pashto Literature of Resistance**

مصطفیٰ کمال*

**Abstract**:

Hashtnaghar (Charsadda), has played an eminent and vital role in the history of independence. This article covers the literature of resistance, created during the freedom movement. This particular angle of resisting thoughts against the British regime has never been taken as a subject of research. The present article will facilitate not only the contemporary writers but will also provide another platform for the coming researchers.

**Keywords:** Hashtnaghar, Pashto, Literature, Resistance

هشتنغر د زرګونو کالو تاریخ لري. هغه هم یو وخت ؤ چې په دې خاؤره د پشکلاؤتي مشهوره ښاریه اباده وه، کومه چې د دارایوش اول (522ق م _ 476ق م) د عظیم سلطنت د ګندهارا صوبې ؤړومبنۍ دارالخلافه وه. نامتو چینی سېلګری هېون سانګ (HsuanTsang)، څوک چې په شپږمه (6) صدۍ عیسوۍ کښې دلته راغلی ؤ، د پشکلاؤتي په حقله لیکي،

"پشکلاوتی ایک آباد اور بارونق شہر ہے۔ اس کے اندرونی دروازے سُرنگوں کے ذریعے آپس میں ملے ہوئے ہیں۔"(1)

ؤروستو دا ښاریه ړنګه شوه، خو د هشتنغر خاؤرې خپل حېثیت اؤ اهمیت تر ننه په څۀ نه څۀ شکل اؤ صورت کښې قائم ساتلی دی. دې زمکې د زمانو انقلابونه لیدلي دي اؤ نن هم دا سیمه د پښتنو د علم و ادب اؤ سیاست مرکز اؤ محور دی.

د پښتو د مزاحمتي ادب په حواله هم د هشتنغر د ستر اؤ معتبر کردار نه انکار نۀ شي کېدی. تر څو چې د مزاحمتي ادب د پېژندنې سوال دی نو په دې اړه ګڼ جوابونه ورکړې کېدی شي اؤ بشپړ بحث پرې کېدی شي. البته دلته به د نامتو نقاد مېلډوناډو ډینس (Maldonado Dennis)دا وېنا رانقل کؤل کافي وي چې،

"مزاحمتی ادب دانشوروں کا ایک مخصوص ادبی انداز ہے، جس سے وہ سماجی اور ثقافتی جبر کو انسولیشن میں دیکھتے ہیں۔"(2)

په دغه تناظر کښې، هغه ادب چې د هشتنغر په زمکه د استعماري طاقتونو په مخالفت اؤ مزاحمت کښې تخلیق شوی دی، زمونږ موضوع کېدی شي. چونکې د مزاحمتي ادب اصطلاح د شلمې صدۍ پېداوار دی نو ځکه به په دې حواله هم د شلمې صدۍ د فېرنګي د استعمار په ضد د تخلیق شوي ادب نه راشروع کوو. حالانکې په پښتو شعر و ادب کښې د مزاحمت عناصر له

* Asisstant Professor, Govt. Degree College, ShabQadar, Charsada Khyber Pashtoon Khwa

پخوا راهسې راروان وو، لکه چې د ستر خوشحال خان خټک شاعري د مُغلي طاقت خلاف د مزاحمت ستره حواله ده.

"پرورده کۀ د مغلو په نمک یم
د اورنګ له جوره هم له غریوه ډک یم
په ناحق ئې په زندان کړم یو څو کاله
خدای خبر دی کۀ په خپل ګناه زۀ شک یم"(3)

اؤ دغسې ددغې پس منظر په ؤړاندې د مزاحمت په دې مقام ؤدرېږي چې.

د افغان په ننګ مې ؤتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم(4)

د خوشحال بابا، اشرف خان هجري اؤ څو نورو دغه مزاحمتي طرزِ فکر چې تر هشتنغره راشي اؤ دلته د خان عبدالغفار خان (باچا خان) د انجمنِ اصلاح الافاغنه اؤ بیا خدائي خدمتګار تحریک په زمینو د فېرنګي خلاف راپورته شي، نو د یو خپل اؤ بیل School of Thought شکل اختیار کړي. دا د پښتو د ادبي تاریخ هغه دور ؤ چې شاعري د غزل د روایت نه د نظم ارزښت ته هم وراؤړېدلې وه. په دې حواله چې مونږ د چا ذکر ؤړومبی کؤلی شو، هغه مولوي فضل محمود مخفي دی.

فضل محمود مخفي (1884ء - 1947ء) د شیخ الهند حضرت محمود الحسن شاګرد اؤ مرید اؤ د خان عبدالغفار خان کلک ملګری اؤ ملاتړ ؤ. ډاکټر عبدالله جان عابد د مخفي صاحب په حقله لیکي،

*"ان شعراء میں غازی فضل محمود مخفی وہ پہلے شاعر ہیں، جنہوں نے آزادی کی تحریک کے پیش نظر جدید سوچ اور فکر کو نظم کا جامہ پہنایا۔"(5)*

د فېرنګي خلاف د مخفي صاحب د قلم دغه مزاحمت د کال 1915ء خواؤشا شروع کېږي اؤ د هغۀ تر مرګه، کال 1947ء پورې راغزېږي. دلته کۀ دا ؤوایو چې د انجمن اصلاح الافاغنه اؤ خدائي خدمتګار تحریک نه ؤړاندې ددغو غړیو ته د مخفي صاحب د شاعرۍ غوره نمونه پرته وه، نو غلطه به نۀ وي. د مخفي صاحب د مزاحمتي فکر د نندارې کولو دپاره مونږ د هغۀ دا قسم شعرونه رانقل کؤلی شو.

"اې زما ننګیالي قومه
وخت د ننګ اؤ د سیالۍ دی
چې خپل قوم نکړې بدنامه
نن هر قوم په ننګیالۍ دی
دا دنیا په ډاګه عامه
نن هر قوم په داووالۍ دی

خدایه! مړ له دې پخوا وې
چې مې بل ته قوم خجل وي"(6)

هر څو کۀ مخفي صاحب د دغې نظم ګوئۍ بنیاد کېښودۀ خو ددغې طرزِ فکر په عام کؤلو اؤ رائج کؤلو کښې د هغو مشاعرو لوی کردار نۀ شي نظر انداز کېدی، کومې چې به د خان عبدالغفار خان د تحریک د سپوري لاندې وخت تر وخته کېدې ـ پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم په دغه اړه د وړومبۍ انعامي مشاعرې په بابله لیکي،

"په کال 1927ء کښې اتمانزو (چارسده) کښې د انګرېز خلاف یوه جلسه ؤشوه اؤ انعامي مشاعره پکښې هم ؤشوه ـ د مشاعرې طرحه دا وه،کۀ زلمي چرې په خپل وطن قربان شي.اول انعام موحوم خلیق صېب واخېستۀ، دوېم انعام مرحوم فضل محمود مخفي صېب اؤ درېم انعام د کوهاټ ډاکټر احمد ګل صېب واخېستۀ ـ"(7)

دغسې په دغه ماحول کښې د فېرنګي د ظلم زور اؤ استبداد په ضد یو شمېر د آزادۍ پتنګانو په فکري محاذ د غلامۍ روانې سیلۍ ته د لارې نیؤو هڅې ؤکړې ـ دغو ټولو ته معلومه وه چې د انګرېز خلاف خبره کؤل اؤ بیا دغه خبره د شعر په ژبه د خلقو زړونو ته کوزؤل، هغوي کوم انجام ته رسؤلي شول ـ بیا هم دغو نغمه ګرو د خپل ګلستان د آزادۍ اؤ ودانۍ سندرې وئیل، جرم نه بلکې خپله فریضه ؤګڼله اؤ تر دې چې په دغه پاداش کښې د قېدونو، بندونو اؤ سزاګانو د مرحلو نه هم راتېر شول ـ په دغو خوشنوا بلبلانو کښې د هشتنغر د ځایي شاعرانو سره سره، د نورو سیمو اؤ علاقو شاعران هم شامل وو ـ ولې په دغو ټولو کښې چې چا زیات نومونه ؤګټل، د هغوي تعلق هم د هشتنغر سره ؤ ـ محمد اکبر خادم، عبدالمالک فدا ، شادمحمد مېړی، فضل رحیم ساقي اؤ داسې نور په دغه حواله د یادؤلو وړ دي ـ

دغه شاعران د صادقو جذبو امینان هم وو اؤ د شعر د فن استاذان هم وو ـ هم دغه وجه وه، چې شعرونو ئې د پښتنو په زړونو اؤ ذهنونو زړۀ پورې اثر درلودی ؤ ـ کۀ یو خوا د خادم محمد اکبر دې قسم شعرونو د انګرېز د استعمار خلاف د مزاحمت تېغې راپورته کړې وې،

"کۀ دې خیال د آزادۍ د خپل وطن وي
کۀ دا اور دې لګېدلی په بدن وي
نور غمونه د دنیا کړه واړه شاته
کۀ دې مینه دې لیلٰی ته د دیدن وي
معشوقه لا په ژړا زارۍ موندۀ شي
آزادۍ سره یو دار وي، بل رسن وي
نۀ کلونه د غلام په غلامۍ کښې

نهٔ ساعت د اٰزادۍ کهٔ ځنکدن وي"(8)

نو بل خوا خوږ ژبي اؤ پُرسوزه عبدالمالک فدا هم په دېو شعرونو د پښتنو سينې راؤنړؤلې،

"کفن په ترخ کښې د سيالۍ مېدان له ځمه
مرګيه! مهٔ راځه درځمه
سر په تلي کښې د الله دربار له ځمه
مرګيه مهٔ راځه درځمه
په چارسده کښې واوېلا شوه
د غدارانو پرې صلا شوه
په سرفروشو کربلا شوه
زهٔ د خپل قام سره په مرګ سيالي کؤمه
مرګيه مهٔ راځه درځمه"(9)

دغه سلسله دومره خوره اؤ زرهٔ پورې وه، چې د هشتنغر هر شاعر، کهٔ هغه لکه د فضل حق شېدا روماني لب و لهجه لرله اؤ کهٔ نه د غني خان غوندې د ژورو خيالاتو اؤ فلسفيانه افکارو ستر فنکار ؤ، د مزاحمت په دغه عمل کښې د خپلې خپلې برخې، خپل خپل کردار ؤلوبوهٔ. هډو د فلسفي غني خان دا شعرونه به واخلو، کوم چې د فېرنګ خلاف د مزاحمت د جذبې اؤ ولولې نه ډک دي،

"کهٔ خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
کهٔ غلام مړ ؤم راځئ توکړئ پرې لاړې
کهٔ په خپلو وينو نهٔ يم لمبېدلی
په ما مهٔ پليتوئ د جمات غاړې
چې قطرې قطرې مې فوځ د دښمن نهٔ کا
مورې ما پسې په کوم مخ به تهٔ ژاړې"(10)

د اٰزادۍ د تحريک په دغه منظر نامه کښې مونږ ګورو چې د هشتنغر شاعرانو، اديبانو د فېرنګ خلاف د مزاحمت دپاره يوازې په شاعرۍ اکتفاء نهٔ ده کړې، بلکې د هغو ډرامو سلسله، کومه چې نوميال عبدالاکبر خان اکبر پېل کړې وه، د دغه مزاحمتي شاعرۍ سره اوګه په اوګه راغله. د ښاغلي اکبر ډرامې "تربور"، "تهذيب جديد، تعليم جديد"، "جونګړه" اؤ داسې نورې په څهٔ نه څهٔ حواله د جبر اؤ زياتي خلاف د مزاحمت په خورؤلو کښې بوختې ښکاري. بيا په تېره تېره د امير نواز خان جليا ليکلې ډرامه "درد" خو په دغه حواله دومره توانا اؤ زوراوره وه، چې د موضوع شدت ئې د فېرنګي حکومت ستنې ؤخوزؤلې. هم دغه وجه وه چې ددې ډرامې متعلقين د سرکار له خوا ګرفتار کړی شول

- ياده دې وي چې د ښاغلي اکبر اکثر ډرامې په اتمانزو کښې اؤ د جليا صاحب "درد" په بابړه (چارسده) کښې سټېج شوې وه -

په افسانو کښې د ماسټر عبدالکريم افسانې ددغه دور د مزاحمتي طرزِ فکر ترجمانېدي، کومې چې په کال 1957ء کښې د "جولۍ ګلونه" په نوم په کتابي شکل کښې چاپ هم شوې۔

د نثر په حواله په دغه دور کښې په "پښتون" مجله کښې چاپ شوې اداريې اؤ مضمونونه هم د مزاحمتي اندازِ فکر رانۀ نقشونه لري - ددغو لوی خصوصيت دا ؤ چې دا د فېرنګ خلاف ښکاره فکري مبارزه وه - د سرکار په ظالمانه روّيه په دغو اداريو اؤ مضمونونو کښې ښکاره ټکونه شوي دي، کومو چې د مزاحمت په حواله د خلقو په ذهن سازۍ کښې ډېر لوی کردار لوبؤلی دی-

د هشتنغر د مزاحمتي ادب په حقله د نامتو ترقي پسند شاعر، اديب اؤ نقاد ښاغلي سليم راز دا مجموعي تأثر هم وزن لري چې،

> " تر څو چې د انګرېز د سامراجيت خلاف د مزاحمت خبره ده، نو هغه خو هغه وخت د هندوستان په نورو برخو کښې هم شوی دی - د هشتنغر د شاعرانو اديبانو خصوصيت دا ؤ چې دوي نۀ يوازې دا چې په خپله شاعرۍ، ډرامه اؤ نورو ليکونو کښې ددغه مزاحمت اظهار کړی دی، بلکې د انګرېز خلاف په روانه مبارزه کښې په عملي ډؤل هم شريک وو - په دغه بنياد، د مزاحمتي تحريکونو ترمېنځه د هشتنغر ددغو شاعرانو اؤ ليکوالو رول ډېر منفرد اؤ د فخر قابل دی-"(11)

د فېرنګي خلاف د هشتنغر د شاعرانو اديبانو عملي مبارزه اؤ مزاحمت هم د تاريخ يو نۀ هېرېدونکی باب دی، خو ولې د هغوي تخليق کړی مزاحمتي ادب هم د نړيوال ادب د مهمې برخې په حواله د پښتنو دپاره د وياړ درنه اثاثه ده - ځکه چې چرته هم اؤ کله هم د نړۍ د مزاحمتي ادبياتو تذکره کېږي، نو د هشتنغر د دغو شاعرانو اديبانو د سپېڅلو تخليقونو، ليکونو اؤ کوششونو د ذکر نه به خالي نۀ وي-

## حوالې


(1) ضیاء، محمد ابراہیم، پشاور ماضی کے دریچوں سے، پشاور، تاج الدین پبلی کیشنز، بار دوم 2011ء، ص32

(2) نعیم بیگ، مزاحمتی ادب اور اس کی تشریحات،
https://www.aikrozan.com, Retrieved on 02/06/2019

(3) رسا، سېد رسول، ارمغان خوشحال، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، دوېم ځل2001 ء، مخ24

(4) همدغه مخ 26

(5) عابد، عبداللہ جان، ڈاکٹر، پشتو ادب کی مختصر تاریخ، پشاور، یونیورسٹی پبلشرز، 2006ء، ص184

(6) شلمان، فضل زمان، مولوي فضل محمود مخفي، پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلشرز، 2016ء، مخ 232

(7) مغموم، یار محمد، ډاکټر، د ازادۍ تحریک او پښتو شاعري، ناشر خود، 2007ء، مخ 143

(8) همدغه، مخونه 157 او 158

(9) فدا، عبدالمالک، دیوان فدا، پېښور، زېب آرټ پبلشرز، 2004ء، مخ 3

(10) غني خان، د غني کلیات، کابل، د قومونو اؤ قبائلو وزارت، 1985ء، مخ 530

(11) ښاغلي سلیم راز سره زما خبرې اترې، ځای: سوکړ کلی (چارسده)، نېټه: وړومبۍ مۍ ۲۰۱۹ء